مؤسس: عبدالرووف بېنوا تأسيس کال: ۱۳۲۸ لمريز

هېواد
ورځپاڼه

یکشنبه | ٤ / صفرالمظفر / ۱٤٤۸ هـ ق | ۲۸ / چنګاښ / ۱۴۰۵ هـ ش | 2026/JULY/19 م | خصوصي ګڼه: ۸۹ مه | پرله پسې ګڼه: ۱۰٦۰ مه | دوره: اتمه

د امربالمعروف وزير:

د اسلامي شريعت د پلي کېدو لپاره ګډه همکاري مهمه ده

د امربالمعروف، نهي عن‌المنکر او شکايتونو اورېدلو وزير، شيخ محمد خالد حنفي په ننګرهار کې د مشرقي زون له علماوو، متنفذينو او قومي مشرانو سره د امربالمعروف قانون د ښه تطبيق او د ګډې همکارۍ د پياوړتيا په موخه غونډه کړې ده.

د ياد وزارت وياند، سيف‌الاسلام خيبر د شيخ محمد خالد حنفي له قوله ويلي، چې د ټولو مجاهدينو د قربانيو، ستړياوو او اوږدو مبارزو بنسټيزه موخه دا وه، چې بهرنی اشغال پای ته ورسېږي او په افغانستان کې د اسلامي شريعت نظام نافذ شي. د هغه په وينا، د همدې موخې د ساتنې او پياوړتيا لپاره د اسلامي ارزښتونو عملي کول او د ټولنې د اصلاح په برخه کې ګډ کار اړين دی.

شيخ محمد خالد حنفي د علماوو، قومي مشرانو او مخورو شخصيتونو رول مهم وباله او ويې ويل، چې د امربالمعروف او نهي عن‌المنکر قانون د اغېزمن تطبيق لپاره د ټولنې د ټولو قشرونو همغږي او همکاري ضروري ده. نوموړي زياته کړه، چې علما او قومي مشران کولای شي د خلکو د پوهاوي، د اسلامي ارزښتونو د ترويج او د ټولنيز يووالي په ټينګښت کې مهم رول ولوبوي.

هغه همداراز له ګډونوالو وغوښتل، چې د ټولنې د اصلاح، د اسلامي اخلاقو د پياوړتيا او د قانون د ښه عملي کېدو لپاره له اړوندو ادارو سره نږدې همکاري وکړي، څو په هېواد کې د اسلامي شريعت د اصولو د تطبيق او د سالمې ټولنې د رامنځته کېدو لپاره ګډې هڅې لا اغېزمنې شي.

د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت:

د غاليو اوبدلو صنعت کې شاوخوا يو ميليون افغانان په کار بوخت دي

د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت وايي، چې د افغانستان د غاليو اوبدلو په صنعت کې په مستقيم او غير مستقيمه توګه شاوخوا يو ميليون کسان په کار بوخت دي. ياد معاونيت په خپل راپور کې ويلي، اسلامي امارت د لاسي صنايعو، په ځانګړي توګه د غاليو صنعت، ملاتړ او پراختيا ته ځانګړې پاملرنه کړې ده.

د دې معاونيت معلوماتو له مخې، د روان کال په ترڅ کې د ۱۴ ميليونه امريکايي ډالرو په ارزښت شاوخوا ۷۶۰ زره متره مربع افغاني غالۍ اروپايي، عربي، افريقايي هېوادونو، ترکيې، امريکا، کاناډا، استراليا او روسيې ته صادرې شوې دي. د مسؤلينو په وينا: د افغاني غاليو د بازارموندنې لپاره په هېواد دننه او يو شمېر بهرنيو هېوادونو کې نندارتونونه هم جوړ شوي دي. اقتصادي معاونيت وايي، افغاني غالۍ بهرنيو بازارونو ته د افغانستان په نوم او نښان صادرېږي او د لوړ کيفيت او ځانګړي ډيزاين له امله يې نړيوال شهرت لا زيات شوی دی. د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت زياتوي، چې د غاليو صنعت د هېواد له هغو مهمو لاسي صنايعو څخه دی، چې د کارموندنې ترڅنګ د افغانستان د غيرنفتي صادراتو په زياتوالي او د کورنيو ...

۳مخ

د افغانستان او ماليزيا چارواکو د دواړو هېوادونو ترمنځ اړيکې مهمې وبللې

په ماليزيا کې د افغانستان اسلامي امارت د لوی سفارت سفير نقيب‌الله احمدي، د برونای دارالسلام له قاضي القضات شيخ محمد سالم بن بيسار سره کتلي دي. په کوالالمپور کې د افغانستان لوی سفارت د شنبې په ورځ په خپله «ايکس» ټولنيزه شبکه کې ليکلي، چې په دې کتنه کې د لوی سفارت سفير د افغانستان د اوسني وضعيت او پرمختګونو په اړه هر اړخيز معلومات ورکړل. د برونای دارالسلام قاضي القضات هم په خپلو خبرو کې، افغانستان ...

۳مخ

سرليکنه

د افغانستان ثبات؛ د سيمې د اجماع نوی فصل

په سيمه‌ييز سياست کې د يوه هېواد ثبات يوازې د هماغه هېواد اړتيا نه وي، بلکې د ټولې سيمې پر امنيت، اقتصاد او سياسي اړيکو مستقيم اغېز لري. همدا لامل دی چې هر ځل د افغانستان د ثبات خبره کېږي، د سيمې د هېوادونو اقتصادي ګټې، ترانزيټي لارې او امنيتي وضعيت هم ورسره تړل کېږي. د چين او روسيې وروستی ګډه اعلاميه د همدې حقيقت يو بل څرګند مثال دی.

د راپورونو له مخې، چين او روسيې په يوه ګډه اعلاميه کې د افغانستان د اوږدمهاله ثبات او امنيت ملاتړ اعلان کړی دی. په اعلاميه کې د افغانستان د سياسي وضعيت د حل لپاره د سيمه‌ييزو چوکاټونو پر اهميت ټينګار شوی او د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اختلافونو د ډيپلوماتيک حل غوښتنه شوې ده. دواړو هېوادونو همدارنګه ډاډ ورکړی چې په دې برخه کې به خپلې دوه‌اړخيزې او څو اړخيزې همغږۍ ته دوام ورکوي.

د افغانستان په اړه د سيمې د لويو قدرتونو دا ډول دريځ ښيي چې د افغانستان ثبات اوس د سيمې يوه ګډه اړتيا بلل کېږي. دا وضعيت د کلونو له جګړو وروسته رامنځته شوی او نن ډېری هېوادونه دې پايلې ته رسېدلي چې ارام، باثباته او خوندي افغانستان د ټولې سيمې په ګټه دی.

همدا حقيقت د دې لامل هم ګرځېدلی چې ورځ تر بلې د افغانستان د اسلامي امارت د رسميت پېژندنې موضوع پراخ ملاتړ ترلاسه کوي. هر څومره چې د افغانستان امنيت، اقتصادي فعاليتونه او سيمه‌ييز تعامل پياوړی کېږي، همغومره د رسمي اړيکو اړتيا هم زياتېږي. نړيوالې اړيکې تل د واقعيتونو پر بنسټ بدلېږي، د افغانستان اوسنی امنيتي او سياسي وضعيت داسې واقعيت دی چې ډېر هېوادونه يې له نږدې ارزوي.

د افغانستان اوسنی ثبات د تصادف پايله نه ده، بلکې هغه امنيتي وضعيت دی چې د اسلامي امارت تر واکمنۍ لاندې رامنځته شوی دی. د سراسري امنيت ټينګښت، د لويو لارو خوندي کېدل، د سوداګرۍ پراخېدل او د پانګونې لپاره د مناسب چاپېريال رامنځته کېدل هغه بدلونونه دي چې د سيمې هېوادونه يې هم ويني. همدا لامل دی چې افغانستان ورځ تر بلې د اقتصادي همکاريو او سيمه‌ييز اتصال په مهم مرکز بدلېږي.

افغانستان د ستراتيژيک موقعيت له امله د ګڼو هېوادونو اقتصادي او ترانزيټي ګټې ورسره تړلې دي. د انرژۍ پروژې، د ريل پټلۍ، سوداګريز دهلېزونه او د منځنۍ او جنوبي اسيا ترمنځ د نښلونکو لارو ډېره برخه د افغانستان له جغرافيې تېرېږي. له همدې امله د افغانستان ثبات د ټولې سيمې د اقتصادي ودې لپاره مهم ارزښت لري.

نن د سيمې هېوادونه ښه درک کوي چې له افغانستان سره د تقابل پر ځای همکارۍ، سوداګرۍ او اقتصادي مشارکت د ټولو په ګټه دي. د اړيکو پراخېدل، د سوداګرۍ زياتوالی او د ګډو پروژو عملي کېدل کولی شي د سيمې د خلکو لپاره نوي فرصتونه رامنځته کړي. هر هغه هېواد چې له افغانستان سره مثبت تعامل غوره کړي، د اقتصادي همکاريو، ترانزيټ او پانګونې له پراخو امکاناتو څخه ګټه اخيستلای شي.

ان‌شاءالله، د سيمې هېوادونه به په تدريج دا حقيقت نور هم درک کړي چې باثباته افغانستان د ټولې سيمې د امنيت، اقتصاد او پرمختګ لپاره خير دی. د متقابل احترام، ښه ګاونډيتوب او ګډو اقتصادي ګټو پر بنسټ اړيکې به نه يوازې افغانستان، بلکې د سيمې ټول هېوادونه د لا پراخې همکارۍ او سوکالۍ پر لور بوځي.

د خيبر پښتونخوا وزير:

له افغانستان سره ستونزې بايد د خبرو له لارې حل شي

په داسې حال کې چې د کابل او اسلام اباد ترمنځ سياسي او امنيتي ترينګلتياوې لا هم دوام لري، په خپله پاکستان کې هم د افغانستان په اړه د دغه هېواد پر سياستوالو نيوکې زياتې شوې دي.

د خيبر پښتونخوا د اطلاعاتو وزير، شفيع جان ويلي، له افغانستان سره اختلافونه بايد د خبرو له لارې حل شي، نه د تاوتريخوالي ...

۳مخ

د هېواد ۹۵ سلنه سيمکارتونه ثبت شوي

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت چارواکو ويلي، چې په هېواد کې د سيمکارتونو د ثبت او راجستر بهير نږدې بشپړ شوی او تر اوسه له ۳۰ ميليونو ډېر سيمکارتونه د قانون له مخې ثبت شوي، چې د ټول فعالو سيمکارتونو شاوخوا ۹۵ سلنه جوړوي. دوی وايي، چې دا کار د اسلامي امارت په لومړيتوبونو کې و، ځکه چې دې ستونزې ډېری افغانانو ته رواني او کورنۍ ستونزې راولاړې کړې وې.

د ياد وزارت وياند عنايت الله الکوزي هېواد ورځپاڼې خبريال ته ويلي چې، د اسلامي امارت له بيا واکمنېدو وروسته د سيمکارتونو د ثبت بهير چټک شوی او اوس يوازې لږ شمېر سيمکارتونه پاتې دي، چې د نوموړي په وينا، د لنډ وخت په ترڅ کې به ثبت او راجستر شي.

د ښاغلي الکوزي په وينا، د سيمکارتونو ثبت د خلکو له مهمو غوښتنو څخه و او وزارت ورته لومړيتوب ورکړ، ځکه د بې نومه سيمکارتونو کارونې ګڼې ټولنيزې او امنيتي ستونزې رامنځته کړې وې: خلکو ته به د شخصي شمېرو له لارې مزاحمتي اړيکې نيول کېدې، چې د کورنيو لپاره يې ستونزې جوړولې او د امنيت، کورني تاوتريخوالي او رواني خونديتوب په برخو کې يې هم منفي اغېزې لرلې ...

۳مخ

په کاپيسا کې د تورمالين کان د کېندنې چارې پيل شوې

د کاپيسا په اله سای ولسوالۍ کې د تورمالين قيمتي ډبرې د استخراج چارې د ځايي مسؤلينو په حضور کې پيل شوې. د ياد ولايت د کانونو او پټروليم رئيس عنايت الله ابلاغ باختراطلاعاتي اژانس ته ويلي، چې د حسن اباد په سيمه کې د تورمالين کان د اتو صوفونو (استخراجي برخو) د استخراج چارې رسما پيل شوې دي، چې له دې لارې به له ۲۰۰ ډېرو کسانو ته د کار زمينه برابره شي.

نوموړي زياته کړې، تورمالين له قيمتي ډبرو څخه شمېرل کېږي، چې د سختوالي درجه يې ۷،۵ ده او د ځانګړو منشوري بلورونو له امله په نړۍ کې د ګاڼو جوړولو په صنعت کې ډېر کارول کېږي. د کاپيسا د کانونو رئيس ويلي: د تورمالين زېرمې يوازې په الهسای ولسوالۍ پورې محدودې نه دي، بلکې په تګاب، نجراب او کوهبند ولسواليو کې هم شته. ه همداراز وويل: په کاپيسا کې د تورمالين ترڅنګ د شين ګارنېټ، ياقوت او سپينل قيمتي ...

۳مخ

امارت اسلامی افغانستان
وزارت معادن وپټرولیم
ریاست معادن ولایت کاپیسا

ميدان وردګو کې د شاوخوا يو ميليون ډالرو په لګښت «شهيدانو جامع جومات» پرانيستل شو

د ميدان وردګو د سيداباد ولسوالۍ د دشت توپ په سيمه کې د «شهيدانو جامع جومات» د يوه سوداګر په مالي ملاتړ د شاوخوا يو ميليون امريکايي ډالرو په لګښت جوړ او پرانيستل شو.

د ياد جومات د پرانيستې په مراسمو کې د چارو ادارې عمومي رئيس شيخ نورالحق انور وويل: ((د عبادت ځايونو جوړول او ابادول د اسلامي ټولنې د پرمختګ، يووالي او د ديني ارزښتونو د پياوړتيا څرګندونه کوي)) په ورته مهال د ميدان وردګو د علماوو شورا رئيس شيخ الحديث مولوي عبدالهادي فضلي له سوداګرو غوښتي، چې خپله پانګه په هېواد کې ولګوي او په ځانګړي ...

۳مخ

دفاع وزارت:

د هېواد په بېلابېلو سيمو کې ګڼ شمېر قاچاقي توکي نيول شوي

دفاع وزارت ويلي، افغان دفاعي ځواکونو د هېواد په بېلابېلو سرحدي سيمو کې سلګونه توکي، روغتيايي وسايط او قاچاقي وسلې کشف او ضبط کړي.

ياد وزارت زياته کړې، چې په دغو قاچاقي توکو کې، ۹ کارتنه بيلابيل ډول روغتيايي درمل او طبي توکي ۲۳ بنډله ثانيه سوز، (۲۳۰۰) ګرامه اپين ۱۸ کيلو شيشه، ۸ ميله کلاشينکوفونه، ۲ ميله روسي پيکا، ۷ميله M٤, ۱۲ قبضې تفنګچې، ۲۶۲ فيره بېلابېل ډول ثقيله مرمۍ، ٦ عرادې موټرسايکلونه او د ٥٦ عراده موټر او پرزې شاملې دي.

همداراز د دغو قاچاقي توکو سره ۱٦ تنه قاچاقبران هم نيول شوي، چې غوښتل يې ياد توکي په غيرې قانوني توګه له افغانستان څخه نورو هېوادونو ته انتقال کړي. د دغه وزارت په وينا؛ نيول شوي کسان له لومړنيو څېړنو وروسته اړوندو قانوني مراجعو ته سپارل شوي دي.

د هرات والي :

د لوېديځ زون د مسؤلينو همغږي دې لا پياوړې شي

د هېواد د لوېديځ زون د مسؤلينو د همغږۍ غونډه د هرات والي، شيخ نوراحمد اسلام‌جار، په مشرۍ او د غور، فراه، بادغيس او نيمروز ولايتونو د چارواکو او مسؤلينو په ګډون ترسره شوه.

د هرات ولايت د مطبوعاتي دفتر له لوري د چنګاښ ۲۷ تمه په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې په دې غونډه کې د کاري فرصتونو پر رامنځته کولو، د جنايي جرمونو پر کمولو ...

۳مخ

د ژباړې انقلاب؛ اسلامي تمدن څنګه د نړۍ علم را ژوندی کړ؟

احسان الله احرار

د نړۍ د تمدنونو تاریخ چې لولو، یوه پوښتنه په طبیعي ډول ذهن ته راځي چې ولې ځینې ملتونه د علم مشري کوي او ځینې نور د نورو د لاسته راوړنو مصرفوونکي پاتې کېږي؟ د دې پوښتنې ځواب حیرانونکی دی انسان فکر ته مجبوروي، نو بیا ضرور تاریخ تخ رجوع کیږي. د تاریخ ژوره څېړنه بیا مونږ ته ښيي چې د علمي مشرتابه تر شا تل یو بل پیاوړی عامل هم شته او هغه د پوهې د راټولولو، ژباړلو، تحلیلولو او بیا تولیدولو وړتیا ده. هېڅ ستر تمدن له صفره نه دی پیل شوی. هر تمدن د پخوانیو تمدنونو پر اوږو دریدلی دی، د هغوی تجربې یې زده کړې، نیمګړتیاوې یې اصلاح کړې او بیا یې نوی علم تولید کړی دی. اسلامي تمدن هم همدا لاره خپله کړه؛ خو هغه یې په داسې کچه ترسره کړه چې د بشري تاریخ له سترو علمي انقلابونو څخه وشمېرل شو.

د ژباړې غورځنګ یوازې د یوې ژبې څخه بلې ژبې ته د کتابونو اړول نه وو؛ دا د تمدنونو ترمنځ د پوهې د لېږد، د فکر د بیا ژوندي کولو او د علم د نوې مرحلې د پیل ستره پروژه وه. مسلمان عالمانو د یونان، فارس، هند او نورو تمدنونو علمي میراث راټول کړ، په دقت یې وژباړه، انتقادي مطالعه یې ورباندې وکړه، علمي نیمګړتیاوې یې اصلاح کړې او بیا یې د نوو څېړنو لپاره بنسټ وګرځاوه. همدا توپیر د ژباړې او علمي انقلاب ترمنځ کرښه ټاکي. که ژباړه یوازې نقل وای، اسلامي تمدن به د نړۍ د علمي مشرتابه مقام نه شو ترلاسه کولای.

د اسلام له لومړیو پېړیو سره د علم ارزښت په ټولنه کې په بې‌ساري ډول لوړ شو. د دولتونو پراختیا، د بېلابېلو ملتونو له تمدنونو سره اړیکې او د علمي اړتیاوو زیاتېدو مسلمان عالمان دې ته وهڅول چې د نړۍ د علمي میراث د راټولولو لپاره پراخ حرکت پیل کړي. دا کار احساساتي شعار نه و؛ دا یو منظم علمي سیاست و. د وخت واکمنانو، عالمانو، ژباړونکو او شتمنو خلکو په ګډه داسې چاپېریال جوړ کړ چې علم یې د ټولنې د پرمختګ اصلي وسیله وګرځوله.

د عباسي خلافت پر مهال بغداد د همدې ستر بدلون مرکز شو. بیت‌الحکمه، چې د نړۍ د علمي تاریخ له سترو مرکزونو څخه شمېرل کېږي، یوازې یو کتابتون نه و. دا د ژباړې، څېړنې، مناظرې، لیکنې او نوښت ستر علمي بنسټ و. د یوناني فلسفې، هندي ریاضیاتو، فارسي ادبیاتو، رومي طب او نورو تمدنونو سلګونه آثار هلته راټول شول. د ژباړې لپاره ځانګړې بودیجه ټاکل کېده، عالمانو ته درناوی کېده او د علمي کار لپاره مناسب چاپېریال برابر شوی و. دا هغه سیاست و چې له امله یې بغداد د څو پېړیو لپاره د نړۍ د پوهې مرکز شو. د ژباړې انقلاب یو بل مهم ځانګړتیا درلوده. مسلمان عالمانو د پخوانیو تمدنونو نظریات د نه بدلېدونکو حقیقتونو په توګه ونه منل. هغوی هر اثر وڅېړه، مقایسه یې کړ، تجربه یې ورباندې ترسره کړه او بیا یې خپله علمي پایله وړاندې کړه. همدا لامل و چې د ژباړې بهیر ډېر ژر د علم د تولید پر بهیر بدل شو. محمد بن موسی الخوارزمي د هندي ریاضیاتو له مطالعې وروسته د الجبر علم ته نوې بڼه ورکړه. ابن هیثم د یوناني نظریو پر ځای تجربه د علم بنسټ وګرځوله. ابن سینا د طب په برخه کې داسې اثار ولیکل چې څو پېړۍ د اروپا په پوهنتونونو کې درسي کتابونه وو. البیروني د جغرافیې، ستورپوهنې او طبیعي علومو په برخه کې هغه څېړنې وکړې چې د خپل وخت له علمي کچې څو ګامه وړاندې وې.

دا پرمختګ تصادفي نه و. د ژباړې غورځنګ د علمي ازادۍ، فکري جرئت او انتقادي مطالعې پر بنسټ ولاړ و. هره ژباړه د نوې څېړنې پیل ګڼل کېده، نه د کار پای. عالمانو د پخوانیو تمدنونو درناوی کاوه، خو د هغوی د نظریو ارزونه یې هم کوله. همدې چلند اسلامي تمدن د تقلید له مرحلې راوایست او د نوښت تر پړاو یې ورساوه.

د کاغذ صنعت هم د دې علمي انقلاب یو مهم ملاتړی و. کله چې د کاغذ جوړونې صنعت په اسلامي نړۍ کې پراخ شو، د کتابونو لیکل، نقلول او خپرول تر پخوا ډېر اسانه شول. زرګونه علمي نسخې ولیکل شوې، کتابتونونه جوړ شول او د علمي معلوماتو تبادله چټکه شوه. که د کاغذ صنعت نه وای غوړېدلی، د ژباړې دغه ستر بهیر به دومره پراخ نه وای شوی.

د ژباړې انقلاب یوازې په بغداد پورې محدود پاتې نه شو. دمشق، قاهره، بخارا، سمرقند، نیشاپور، بلخ، هرات، قرطبه او غرناطه هم د علم او ژباړې په مهمو مرکزونو بدل شول. د اسلامي نړۍ په ختیځ او لویدیځ کې داسې پراخ علمي شبکه رامنځته شوه چې د نړۍ له بېلابېلو تمدنونو سره یې فکري اړیکې ټینګې کړې. همدا اړیکې د دې سبب شوې چې علم د جغرافیایي او قومي محدودیتونو څخه ووځي او نړیواله بڼه خپله کړي.

د اندلس تجربه د ژباړې د انقلاب بله مهمه پاڼه ده. کله چې اسلامي اسپانیا د علم او تمدن مرکز شو، د اروپا له بېلابېلو سیمو زده کوونکي او عالمان قرطبې، اشبیلیې او طلیطلې ته راتلل. هلته یې عربي ژبه زده کوله، اسلامي آثار یې مطالعه کول او وروسته یې لاتیني ژبې ته ژباړل. د ابن رشد، ابن طفیل، الزهراوي، ابن باجه او ګڼو نورو عالمانو آثار د همدې لارې اروپا ته ورسېدل. همدغه علمي انتقال د اروپا د علمي بیدارۍ او رنسانس له مهمو عواملو څخه ګڼل کېږي.

د ژباړې انقلاب دا هم وښودله چې علم هېڅکله د یوه قوم، ژبې یا جغرافیې انحصار نه وي. هغه ټولنه چې د نورو تجربو له زده کړې ډډه وکړي، په تدریج سره له نړیوال علمي بهیر څخه پاتې کېږي. برعکس، هغه ملت چې د نړۍ له پوهې ګټه واخلي او بیا خپل نوښت ورباندې ورزیات کړي، د علمي مشرتابه وړتیا پیدا کوي. اسلامي تمدن همدا اصل په عمل کې ثابت کړ.

نن ورځ هم د نړۍ پرمختللي هېوادونه د ژباړې لپاره سترې بودجې ځانګړې کوي. هر کال زرګونه علمي کتابونه له بېلابېلو ژبو ژباړل کېږي، څکه هغوی پوهېږي چې د علم پرمختګ یوازې د داخلي تولید له لارې نه کېږي؛ نړیوال علمي تعامل هم ورته اړین دی. جاپان، جنوبي کوریا، چین او ګڼو نورو هېوادونو د معاصر پرمختګ په لومړیو پړاوونو کې د نړۍ مهم علمي آثار خپلې ژبې ته وژباړل، ورباندې یې څېړنې وکړې او وروسته یې خپل علمي تولید پیل کړ. دا تجربه د اسلامي تمدن له تاریخي تجربې سره ورته والی لري.

د افغانستان او اسلامي نړۍ لپاره هم دا موضوع ځانګړې اهمیت لري. که یوه ټولنه غواړي د علم په ډګر کې مخکښه شي، باید د ژباړې، څېړنې او نوښت ترمنځ پیاوړې اړیکه رامنځته کړي. د نړۍ د نوو علمي لاسته راوړنو ژباړه، د خپلو عالمانو د آثارو تولید او د څېړنیزو مرکزونو پیاوړتیا هغه لارې دي چې علمي خپلواکي ورباندې ترلاسه کېدای شي. یوازې د نورو د تولیداتو مصرف کول د علمي مشرتابه لپاره بسنه نه کوي.

د ژباړې انقلاب موږ ته یو بل مهم درس هم راکوي. ستر تمدنونه هغه وخت راټوکېږي چې د نورو له پوهې وېره ونه لري. علم د رقابت موضوع نه، بلکې د انسانیت ګډ میراث دی. څوک چې دا میراث په خلاص ذهن، ژور فکر او انتقادي لید مطالعه کړي، د نوښت دروازې ورته پرانیستل کېږي. خو که یوه ټولنه ځان له نړیوال علمي بهیر څخه ګوښه کړي، په تدریج سره به د نورو د تولیداتو محتاجه شي.

په پای کې ویلای شو چې د اسلامي تمدن د ژباړې انقلاب د بشري تاریخ له سترو علمي خوځښتونو څخه و. دغه انقلاب د پخوانیو تمدنونو علمي میراث له ورکېدو وژغوره، د علم د نوې ودې لپاره یې بنسټ کېښود، زرګونه عالمان یې وروزل او د نړۍ د تمدنونو ترمنځ یې د پوهې داسې پُل جوړ کړ چې اغېزې یې تر نن ورځې دوام لري. د دې تاریخي تجربې تر ټولو لوی پیغام دا دی چې علم هغه مهال وده کوي چې ملتونه د زده کړې، ژباړې، څېړنې او نوښت ترمنځ متوازن اړیکه رامنځته کړي. هر تمدن چې دا څلور بنسټونه پیاوړي کړي، د نړۍ د علمي مشرتابه وړتیا به هم ترلاسه کړي.

د علي بن إبراهيم بن إسماعيل الغزنوي الحنفي علمي ژوندلیک

محمد بهادر حنیف

ابوالحسن علي بن إبراهيم بن إسماعيل الغزنوي الحنفي د اسلامي نړۍ له هغو حنفي مفسرانو او فقیهانو څخه دی چې د قرآن کریم په تفسیر کې یې د پام وړ خدمت ترسره کړی دی. دنوموړی تفسیرد(تقشیرالتفسیر) په نوم لیکلی چې په عربي نړۍ کې تازه تحقیق شوی اوله چاپه راوتلی دی .

د «الغزنوي» نسبت ښيي چې نوموړی د غزني سیمې سره تړاو درلود، هغه سیمه چې د اسلامي تمدن، علم او ادب له مهمو مرکزونو څخه شمېرل کېده.

د زېږېدو او وفات کال

د هغه د زېږېدو کره کال په معتبرو تاریخي سرچینو کې نه دی ثبت شوی؛ خو د وفات کال یې د ډېرو تذکرو له مخې شاوخوا ۵۸۰ هـ ق یاد شوی، که څه هم په ځینو منابعو کې لږ اختلاف هم لیدل کېږي.

دنوموړي علمي مقام:

علي بن إبراهيم الغزنوي د حنفي فقهې له وتلو علماوو او د قرآن کریم له مفسرانو څخه و. هغه د تفسیر، فقه، عربي ژبې او نورو اسلامي علومو ژوره پوهه لرله. په خپل تفسیر کې یې د قرآن د آیتونو د معنا، فقهي احکامو او ژبنیو لطایفو بیان ته ځانګړې پاملرنه کړې ده.

دغزنوی استادان:

د تاریخي منابعو د کمښت له امله د هغه د استادانو کره نوملړ نه دی راپاتې شوی. یوازې دومره څرګندېږي چې نوموړي د خپل وخت له حنفي علماوو څخه زده کړې کړې وې.

دالغزنوی شاګردان:

د هغه د شاګردانو نومونه هم په معتبرو تاریخي آثارو کې نه دي ثبت شوي، له همدې امله په یقیني ډول یې یادول ممکن نه دي.

آثاریې:

تر ټولو مشهور اثر یې «تقشیرالتفسیر» دی، چې د قرآن کریم د تفسیر په برخه کې لیکل شوی او د حنفي مذهب دتفسیرونو له مهمو اومعتبروآثارو څخه ګڼل کېږي.

د تفسیر ځانګړنې:

۱: د قرآن تفسیر د قرآن او سنتو په رڼا کې.
۲: د حنفي فقهې د نظرونو بیان.
۳: د لغوي او نحوي بحثونو پام.
۴: د سلفو د اقوالو نقل.
۵: له اسرائیلیاتو څخه تر ډېره ډډه.
۶: د اعتدال او علمي امانت ساتنه.

ه اړه یې د علماوو نظر:

که څه هم د هغه په اړه د متأخرینو په څېر پراخ معلومات نه شته؛ خو د تفسیر کتاب یې د هغه د علمي ځواک او د قرآن د علومو په برخه کې د ژورې پوهې څرګندونه کوي.لنډه داچې

علي بن إبراهيم الغزنوي د افغانستان د غزني له هغو اسلامي علماوو څخه دی چې د قرآن کریم د تفسیر په ډګر کې یې ارزښتناک خدمت ترسره کړی دی. که څه هم د ژوند د ډېرو اړخونو په اړه یې معلومات محدود دي؛ خو علمي میراث یې د اسلامي علومو په تاریخ کې ځانګړی ځای لري او د حنفي تفسیر د ودې له مهمو آثارو څخه شمېرل کېږي.

پنجشېر کې ۱۵ زره ځوانانو ته ...

د اقتصاد پیاوړتیا، د کورنیو ځان‌بسیاینې او ځوانانو ته د کاري فرصتونو د برابرولو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکوي.

له پاکستانه راستانه شوي ...

لګولي وو، کورونه یې راته رنګ کړل، ان خپلو ګاونډیانو سره د مخه ښې لپاره وخت هم را نکړل شو، موږ هلته پنځوس کاله تېر کړل؛ خو په وروستیو کې یې سخته بې عزتي او ځورول پیل کړي وو.))

د ننګرهار ځایي مسؤلین وایي، له پاکستانه د افغان کډوالو د را ستنېدو لړۍ په چټکۍ دوام لري او په عمري لنډمهالي مېشت‌غالي کې د کډوالو اړوندو چارو لپاره ټولې کمېټې فعالې دي.

د ننګرهار د کډوالو او راستنېدونکو چارو رئیس، غلام الرحمن بلال حقاني وایي: ((په ورځني ډول د تورخم له لارې له ۵۰۰ تر ۸۰۰ کورنیو پورې هېواد ته را ستنېږي، چې د دوی د خدمت لپاره دولس ګونې کمېټې فعالې دي او را ستنېدونکو افغانانو ته هر ډول خدمتونه وړاندې کېږي.))

سږ کال په دې ولایت کې ...

ګام دی چې ور سره به په دې برخه کې د وارداتو بهیر کم شي او پر ځای به یې د هېواد زراعت په ځانګړي ډول د افتاب پرس کرکېله وده وکړي.

په ورته مهال د اقتصادي چارو کارپوه ثناء الله نجیب وایي: د لمر ګلي کرکېله نه یوازې د تولیداتو په پراختیا کې اړین رول تر سره کوي، بلکې د خوراکي غوړیو اړتیا پوره کوي، د بزګرانو عوایدو د زیاتوالي سرچینه ګرځي، د کاري فرصتونو لامل ګرځي او د هېواد په کرنیز اقتصاد کې ستر بدلونونه رامنځته کوي.

د نوموړي په خبره: زراعت د هېواد اساسي اړتیاووې پوره کوي چې تر شاه یې د ستر قتصاد بنسټ جوړوي، نو د زراعت وده کولای شي چې د هېواد اقتصاد پر پښو ودروي، وارداتو ځای به صادراتو بدلوي او محصولاتو لمن ور سره پراخېږي.

د یادونې وړ ده چې د لمر ګلي غوړیو او دانې په برخه کې افغانستان کې په پر کښت او تولیداتو یې پانګونه نه ده شوې چې ورته د ګاونډیو او سیمو هېوادونو نه واردات لري، په کور دننه یې کاروونکي زیات دي، نو اړتیا یې هم زیاته چې په دې برخه کې پانګونه کولای شي چې د هېواد اړتیاووې دننه پوره کړي او د صادراتو لمن ور سره پراخه شي. زیارمل هوتک

نورستان کې د درېیو ...

همدارنګه د واما ولسوالۍ د ارچنو په سیمه کې د دوو کورنیو ترمنځ ۱۵ کلنه دښمني، چې له امله یې دوه کسان وژل شوي او یو تن ټپي شوی و، د ولسوالۍ مسؤلینو، علماوو او قومي مشرانو په هڅو پای ته ورسېده.

د روغې جوړې د پرېکړې له مخې، ټپي شوي کس ته د تاوان په بدل کې ۱۵ غواګانې ورکړل شوې او دواړو کورنیو د وژل شویو کسانو د قصاص حق یو پر بل وباښه. چارواکو او قومي مشرانو له خلکو وغوښتل، چې خپلې شخړې د خبرو، زغم او ورورولۍ له لارې حل کړي.

پکتیکا کې د شاوخوا ...

د یاد ریاست رئیس مولوي لعل محمد ګوهر وایي، چې دغه پروژې د ۲٦۱ زره او ۲۳۱ امریکایي ډالرو په لګښت پلې شوې دي، چې پکې د اوبو د مدیریت او کرنیزو ځمکو د ساتنې لپاره د استنادي دېوالونو، چک ډېمونو او اوبو زېرمه کولو حوضونو جوړول شامل دي.

نوموړي زیاته کړې، چې د دغو پروژو په ترڅ کې ۱۲ کیلومتره سړک هم هوار شوی او د چاپېریال ساتنې او کرنیزې ودې په موخه ۱۵۸۰ جلغوزي نیالګي هم کېنول شوي دي.

نوموړي زیاته کړه، چې یادې پروژې د اوو میاشتو په موده کې بشپړې شوې، چې په بشپړېدو سره به یې د کرنې د پراختیا، د اوبو سرچینو د مدیریت، د خلکو اقتصادي پیاوړتیا او د کاري فرصتونو په رامنځته کولو کې مثبت اغېز ولري. ده ټینګار کړی، چې د کرنیزو زیربناوو پراختیا د بزګرانو ملاتړ او د سیمې اقتصادي ودې لپاره مهمه ده او هڅې روانې دي، څو په دې برخه کې نورې پروژې هم پلې شي.

بهر ته د څارویو د محصولاتو ...

له دې محصولاتو ګټه واخلي او صادراتو ته اړتیا ونه لري. موږ د حیواني پوستکو د ساتنې لپاره مناسب ځای نه لرو، له همدې امله د پوستکو او کولمو یوه برخه خرابېږي. که اسانتیاوې او د څرمنو د تولید کارخونې جوړې شي، نو دغه محصولات به په هېواد دننه وکارول شي.))

د دغو محصولاتو بل صادرونکي، بصیر احمد احمدیان وایي: ((موږ په هېواد کې د څرمنو د تولید کارخونې نه لرو. که داسې کارخونې وای، موږ به د حیواناتو له پوستکو بوټان، بکسونه او نور چرمي توکي تولیدول.))

محب‌الله، چې بهر ته د څارویو پوستکي او کولمې د صادراتو لپاره چمتو کوي، وایي: «هغه پوستکي چې له مسلخ څخه راځي، لومړی پرې مالګه شیندل کېږي، وروسته وچېږي او بیا د بارولو او صادراتو لپاره چمتو کېږي.» د څارویو پوستکي او کولمې د هېواد له بېلابېلو ولایتونو هرات ته لېږدول کېږي او له هغه ځایه بهرنیو بازارونو ته صادرېږي.

په تېرو کلونو کې د دغو حیواني محصولاتو اصلي بازار پاکستان و، خو د لارو د تړل کېدو له امله، اوس دغو کورنیو محصولاتو ته نوي بهرني بازارونه موندل شوي دي.

د اسرائیلي رژیم بریدونو ...

پر وړاندې د اسرائیلو د بریدونو د درولو، د ملکي وګړو د خوندیتوب او د نړیوالو بشري قوانینو د عملي کېدو لپاره بېړني او اغېزمن ګامونه پورته کړي. په ورته مهال، د غزې اوسېدونکي د جګړې د دوام له امله د سختو بشري او روغتیایي ستونزو سره مخ دي.

افغان اعلانات

عنوان پروژه: { تهیه و نصب سیستم برق آفتابی}

شماره داوطلبی:
AG/1405/NCB/W-811}
و {HDSPDE/W-05/NCB/OB/1405
نوع قرارداد: بیع استصناع

لوی ریاست نظارت و تعقیب فرامین و احکام ا.ا.ا از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه { تهیه و نصب سیستم برق آفتابی برای محافظین امنیتی، قراول ها، کمره و پروجکتورهای لوی ریاست نظارت و تعقیب فرامین و احکام ا.ا.ا}بابت سال مالی ١٤٠٥ اشتراک نموده، داوطلبان می توانند سافت کاپی شرطنامه مربوطه را از سیستم تدارکات الکترونیکی و باز افغانستان (https://tenders.ageops.af/prs/bid-opportunities-notices?) و یا از آمریت تدارکات این اداره واقع دارالامان بدست آورند، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق اصول تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت } ١٠:٠٠ بجه قبل از ظهر به وقت کابل {روز} یک شنبه{تاریخ {١٤٠٥/٠٥/١٨{به آمریت تدارکات این اداره واقع دارالامان- ناحیه ششم- کابل- افغانستان ارایه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد. جلسه آفرگشایی به روز{ یک شنبه} مؤرخ{١٤٠٥/٠٥/١٨{ ساعت { ١٠:٠٠ بجه قبل از ظهر به وقت کابل{ در}بلاک B، منزل سوم - صالون جلسات مرستیالی مالی و اداری} تدویر می گردد.

قابل ذکر است که ارایه تضمین آفر لازم نمی باشد، اما داوطلبان مکلف اند که اظهارنامه تضمین آفر را مطابق فورم معیاری آن مندرج شرطنامه دقیق خانه پری، مهر و امضا نموده، ضم آفر خویش ارایه نماید.

موضوع: د دواطلبي خبرتیا

د کابل واټ ترانسپورت د تنظیم لوی ریاست غواړي د ١٤٠٥ مالي کال د پرنټرونو او فوټو کاپي ماشینونو لپاره د رنګونو د تدارک پروژه چې تشخیصیه نمبر یې

MOTA/DRTK/1405/NCB/G002

ده، د بیع بالتقسیط عقد د عقودو قانونو مطابق ترسره کړي، ټول هغه شرکتونو او متشبثین چې د ګډون علاقه لري، شرطپانه د سافټ په ډول د کابل واټ ترانسپورت د تنظیم لوی ریاست اړوند د مالي او اداري آمریت څخه ترلاسه کړي اوخپل آفرونه د شرطپانې مطابق، سر بسته توګه د خپرولو له نیټې څخه تر (١٥) پنځلس تقویمي ورځو پورې کابل واټ ترانسپورت د تنظیم لوی ریاست ته وړاندې کړئ. د ټاکلې نیټې څخه وروسته رسیدلي او انټرنیټي وړاندیزونه د منلو وړ ندی.

د وړاندیزونو پرانیستنه د اعلان څخه (١٥) پنځلس ورځې وروسته د سهار په (١٠) بجو د کابل واټ ترانسپورت د تنظیم لوی ریاست ودانۍ په دوهم منزل د کنفرانس په تالار کې دایریږي.

نوټ: د نورو معلوماتو لپاره لاندې ذکر شویو شمیرو سره په اړیکه کې شئ.

محمد عمر وفا: ٠٧٠١١٦٥٢٠٨
عبدالاحد صدیقي : ٠٧٨٢٠٠٢٤٤٠
محمد هاشم صفدري : ٠٧٧٥٥٧٠٣١٤

موضوع: د ملي پراختیا شرکت د ملکیتونو د داوطلبۍ (مزایدې) اعلان!

د ملي پراختیا شرکت اړوند لاندې ملکیتونه د اجارې په موخه د داوطلبۍ له لارې وړاندې کېږي:

١ - د اماراتو ښارګوټي (٢) فاز (۴) او (٥) شمېرې لینټري هټۍ، د درې کلونو مودې لپاره د اجارې په ډول ورکول کېږي، غوښتنلیک سپارلو موده د اعلان له خپرېدو څخه تر اووه (٧) ورځو پورې.

٢- د کابل ښار (١٥)ناحیه، خواجه رواش ښارګوټي (٢)مارکیټ(٥) شمېره لینټري هټۍ، د درې کلونو مودې لپاره د اجارې په ډول ورکول کېږي، غوښتنلیک سپارلو موده د اعلان له خپرېدو څخه تر اووه (٧) ورځو پورې.

٣-د کابل ښار (١٥)ناحیه، خواجه رواش ښارګوټي (٢)مارکیټ اړوند (١٣)متر مربع مساحت لرونکي یو باب فلزی غرفه ، د درې کلونو مودې لپاره د اجارې په ډول ورکول کېږي، غوښتنلیک سپارلو موده د اعلان له خپرېدو څخه تر اووه (٧) ورځو پورې.

٤-د کابل ښار (١٥) ناحیه، لاله ښارګوټي (١٢٨)متر مربع مساحت لرونکی (٧)شمېره لینټري هټۍ، د درې کلونو مودې لپاره د اجارې په ډول ورکول کېږي، غوښتنلیک سپارلو موده د اعلان له خپرېدو څخه تر لس (١٠) ورځو پورې.

٥-د کابل ښار(١٥)ناحیه، خواجه رواش ښارګوټي (٢)مارکیټ (٢/٣٠)متر مربع مساحت لرونکي(١٣) شمېره لینټري هټۍ، د درې کلونو مودې لپاره د اجارې په ډول ورکول کېږي ، غوښتنلیک سپارلو موده د اعلان له خپرېدو څخه تر اووه (٧) ورځو پورې.

٦-د کابل ښار(١٥)ناحیه، خواجه رواش ښارګوټي (١)مارکیټ (٢٧.٢۴)متر مربع مساحت لرونکي(۴) شمېره لینټري هټۍ، د درې کلونو مودې لپاره د اجارې په ډول ورکول کېږي ، غوښتنلیک سپارلو موده د اعلان له خپرېدو څخه تر اووه (٧) ورځو پورې.

نو پر همدې اساس، ټول حقیقي او حکمي اشخاص چې په ترون کې د ګډون علاقه لري، کولای شي خپل غوښتنلیک د اعلان له خپرېدو وروسته د ټاکل شوو ورځو په اوږدو کې د ملکیت د ځانګړتیاوو په یادولو سره د ملي پراختیا شرکت ته، چې د کابل ښار ١٥ ناحیې قصبې سیمه کې موقعیت لري، وسپاري. شرطپاڼه کتلی شئ او تضمین به په نغدي ډول اخیستل کېږي.

اعلان

د عدلیې وزارت د انسجام لوی ریاست د ټولنو چارو ریاست په پام کې لري چې د ټولنې دلاښه تنظیم په موخه د اتحادیو او خیریه بنسټونو له کړنلارې سره سم، بنیاد خیریه صدقت ته د فعالیت جواز ورکړي.

دیاد جواز اخیستلو لپاره حبیب الرحمن د پیرم قل زوی، د تخار ولایت رستاق ولسوالی اصلی او د تخار ولایت تالقان ولسوالی فعلی اوسیدونکی د رییس، او عبدالجبار د پیغمبر قل زوی ، د فاریاب ولایت پشتون کوت ولسوالی اصلی او فعلی اوسیدونکی د مرستیال په توګه عارض شوي، که پر یادو اشخاصو دصنف اړوند کوم څوک نیوکه لري، د اعلان له نیټې څخه تر لسو ورځو پورې د عدلیې وزارت یاد ریاست ته خپل شکایت له اسنادو او شواهد و سره یوځای په لیکلې بڼه وړاندې کړې، له یادې نیټې وروسته به نومړو اشخاصوته د فعالیت جواز صادریږي چې دجواز د صدور له نیټې څخه د جواز تر نهایي نیټې پورې په یادو اشخاصو څوک د شکایت حق نه لري.٣٦٩۴

اطلاعیه

وزارت زراعت آبیاری و مالداری مقدار ۶ تن متر یک گندم ناخالص را از قرار فی کیلو ۴ افغانی طور مزایده به تاریخ ١۴٠۵/۵/١۴ به فروش میرساند. افراد انفرادی و موسسات خصوصی که خواهش خریداری آنرا داشته باشند درخواستی شانرا از تاریخ نشر اعلان به ریاست اداری وزارت سپرده به تاریخ فوق الذکر به سیلو مرکز مراجعه نموده ۴٠٠٠ افغانی پول نقد حق الاشتراک نقدا اخذ می گردد.٣۶٩٠

اطلاعیه مفقوی

یک قطعه ترجمه انگلیسی تولد کارت به اسم شاهد عرب فرزند محمد عرب مفقودگردیده از اعتبار ساقط است. ٣٧٠٠

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه جواز فعالیت کلینیک صحت حیوانی دارای کود نمبر ١۶٧٢ به اسم محترم نور عالم فیضان فرزند محمد کریم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.٣۶٩٨

اعلان مفقودی

مهروکالت گذر ٢ ناحیه یازدهم شاروالی کابل به اسم مجتبی فرزند محمد اسماعیل مفقود گردیده از اعتبارساقط است.٣۶۵۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم امداد الحق فرزند محمد امین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم احمد الله سخی زاده فرزند عتیق مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عرفان دولت زی فرزند نثار احمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شرین دولت زی فرزند نثار احمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد دولت زی فرزند نثار احمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بی بی لطیفه دولت زی بنت عتیق مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم داود فرزند عبدالاحمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالحکیم فرزند عزیز محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالمحمد فرزند محمد غوث مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم فرهاد کوثری فرزند محمد قاسم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم برهان الدین رحمانی فرزند نجم الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حسن رضایی فرزند عوض مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم پرویز اکبری فرزند عبدالمومین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد حینف امیر جان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم وحیده شریفی بنت عبدالحکیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عالم فرزند محمد رضوان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.٨٠٩١

د غالیو اوبدلو صنعت کې ...

د اقتصادي وضعیت په پیاوړتیا کې مهم رول لري. د مسؤلینو په وینا، د دې صنعت د پراختیا لپاره د تولید، پروسس، بازارموندنې او صادراتو په برخو کې د لا ډېرو اسانتیاوو رامنځته کول کولی شي د افغاني غالیو نړیوال بازار لا پراخ او د صادراتو کچه نوره هم لوړه کړي.

د اقتصادي چارو پوهان هم باور لري، چې د افغاني غالیو د کیفیت ساتل، د نړیوالو نندارتونونو دوام، د نوو بازارونو موندل او د خصوصي سکټور ملاتړ به نه یوازې د هېواد صادرات زیات کړي، بلکې د زرګونو نورو افغانانو لپاره به د کار او عاید نوې فرصتونه هم رامنځته کړي. د دوی په اند، د غالیو صنعت د افغانستان د اقتصادي ودې، د بهرنیو اسعارو د جذب او د دودیزو لاسي صنایعو د پیاوړتیا له مهمو سکټورونو څخه شمېرل کېږي.

د افغانستان او مالیزیا ...

د مالیزیا ورور هېواد یاد کړی او د دواړو اسلامي هېوادونو ترمنځ یې اړیکې مهمې بللې دي.

په کتنه کې همدا رنګه د برونای او افغانستان د علماوو ترمنځ د همکاریو پر پراختیا خبرې شوې دي.

شنونکي وايي، د افغانستان او د اسلامي نړۍ د هېوادونو ترمنځ د ورته لیدنو دوام کولی شي د سیاسي او ډیپلوماتیکو اړیکو د پیاوړتیا لپاره مناسب فرصتونه برابر کړي. د دوی په باور، د اسلامي هېوادونو له دیني او رسمي چارواکو سره د اړیکو پراختیا نه یوازې د متقابل تفاهم د زیاتوالي لامل کېږي، بلکې د ګډو اسلامي ارزښتونو، علمي همکاریو او سیمه‌ییز تعامل د پراخېدو لپاره هم اغېزناک رول لري.

د سیاسي چارو کتونکي هم په دې باور دي، چې د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي له اسلامي هېوادونو سره خپلې اړیکې لا پراخې کړي او د متقابل درناوي او ګډو ګټو پر بنسټ د سیاسي، دیني او فرهنګي همکاریو نوی فصل پرانیزي. د دوی په وینا، دا ډول لیدنې د دواړو هېوادونو ترمنځ د باور د فضا په پیاوړتیا او د راتلونکو همکاریو د پراختیا لپاره مثبت بنسټ جوړولای شي.

له افغانستان سره ستونزې ...

د زیاتولو. د ده په وینا، د سرحدي لارو دوامداره تړل تر هر چا ډېر د دواړو هېوادونو خلکو او اقتصادونو ته زیان رسولی دی. نومړي ویلي: «په تېر وخت کې موږ له افغانستان سره ډېرې ستونزې د خبرو، جرګو او د مشرانو او سپین‌ږیرو په منځګړیتوب حل کړې دي. نن که پوله تړلې ده، تر ټولو ډېر زیان د خیبر پښتونخوا ایالت ته اوښتی دی. د دغه ایالت سوداګر، کاروباریان او کارګران زیانمن شوي دي.»

په همدې حال کې، یو شمېر سیاسي شنونکي په دې باور دي، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د بې باوریو د کمولو لپاره د خبرو دوام خورا مهم دی. سیاسي شنونکی، سید عبادالله صادق په دې اړه وايي: «د هېوادونو ترمنځ هېڅ موضوع، که هغه سیاسي وي، اقتصادي وي او که امنیتي، له خبرو پرته نه شي حل کېدای. یوازې د خبرو او ډیپلوماتیکو ناستو له لارې مقابل لوری قانع کېدای شي او حل لارې ته رسېدل ممکن دي.»

تر دې وړاندې هم د مولانا فضل الرحمن او محمود خان اڅکزي په ګډون یو شمېر پاکستاني چارواکو د خپل هېواد پر سیاستونو نیوکه کړې او د پاکستان له حکومته یې غوښتي ، چې له افغانستان سره شته اختلافونه د زور پر ځای د خبرو اترو له لارې حل کړي.

د هېواد ۹۵ سلنه سیمکارتونه ...

نومړی وايي چې د ثبت بهیر په چټکۍ سره په ټولو ٣۴ ولایتونو کې عملي شوی او وزارت توانېدلی چې د میلیونونو فعالو سیمکارتونو د راجستر چارې په منظم ډول مدیریت کړي: د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو سره شاوخوا ٢٢ میلیونه فعال سیمکارتونه موجود وو، چې د ثبت او تنظیم جدي مدیریت ته یې اړتیا لرله؛ که څه هم تېرې اداري په دې برخه کې هڅې کړې وې، خو له وسه یې نه وه شوې.

د مخابراتو وزارت د معلوماتو له مخې چې ټول سیمکارتونه د ټاکلي میکانیزم له مخې د مخابراتي شرکتونو له لارې ثبت او پېرودونکو ته سپارل کېږي.

د معلوماتي ټکنالوژۍ کارپوه انجینر احمد فرید، د سیمکارتونو د ثبت بهیر د مخابراتي سکټور لپاره یو مهم پرمختګ بولي. نومړی وايي، د سیمکارتونو قانوني ثبت د امنیت د ټینګښت، د مخابراتي درغلیو د مخنیوي او د خلکو د شخصي معلوماتو د خوندي ساتنې لپاره اغېزناک ګام دی. د هغه په وینا، کله چې هر سیمکارت د خپل اصلي مالک په نوم ثبت وي، د جرمونو او ناوړه استفادې د مخنیوي ترڅنګ د مخابراتي خدمتونو پر وړاندې د خلکو باور هم پیاوړی کېږي. **تاج محمد بهار**

په کاپیسا کې د تورمالین کان ...

ډبرو د استخراج بهیر هم روان دی.

چارواکي وايي، د طبیعي زېرمو استخراج به د کارموندنې، اقتصادي ودې او د هېواد د کانونو د پراختیا په برخه کې مهم رول ولري.

میدان وردګو کې د شاوخوا ...

ډول د دیني مدرسو، جوماتونو او نورو عامه ګټورو پروژو په جوړولو او پیاوړتیا کې ونډه واخلي.

د شهیدانو جامع جومات جوړونکي سوداګر خان محمد وردګ وویل، چې یاد جامع جومات د شاوخوا یو میلیون امریکایي ډالرو په لګښت د دوو کلونو په موده کې جوړ شوی دی.

نومړي زیاته کړې چې دا جومات په یو وخت کې د ٢ زره لمونځ کوونکو د ځایېدو وړتیا لري او د جنازې د لمانځه لپاره هم د ٣ زره کسانو د ځای اسانتیا پکې برابره شوې ده. ده وویل: دا جامع جومات د اوداسه ځایونه او نور اړین ملحقات لري.

د لوېدیځ زون د مسؤلینو ...

د نشه‌یي توکو د کر او قاچاق پر مخنیوي، د دیني او عصري علومو د زده‌کړو لپاره د غوره زمینو پر برابرولو او یو شمېر نورو موضوعاتو خبرې شوې دي.

دغه‌راز په دې غونډه کې د هرات والي د نیمروز، فراه، غور او بادغیس ولایتونو د ځوانانو لپاره، په ځانګړي ډول د کرنې، صنعت او ودانیزو چارو په برخو کې د کاري فرصتونو پر رامنځته کولو ټینګار کړی.

نومړي همدا‌راز د بېلابېلو برخو په کچه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی د فرمانونو پر لا ښه پلي کېدو او د جنایي جرمونو د کمولو په موخه د لوېدیځ زون د مسؤلینو ترمنځ د همغږۍ پر پیاوړتیا ټینګار کړی دی.

په همدې حال کې، د یادو ولایتونو چارواکو او مسؤلینو د خپلو ولایتونو د وضعیت په اړه راپورونه وړاندې کړي، د کاري فرصتونو د برابرولو او د خلکو د ژوند د شرایطو د ښه کولو لپاره یې ترسره شوي اقدامات تشریح کړي او شته ستونزې او ننګونې یې هم له یو بل سره شریکې کړې دي.

د افغانستان او هند ترمنځ ...

لاسي صنایعو، کانونو او معدني توکو د صادراتو برخو کې د اقتصادي همکاریو د دوام غوښتنه کړې ده.

د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې رئیس دغه‌راز د هدفمنو بازارونو پراختیا، د لوژستیکي زیربناوو ښه‌والی او د سوداګریزو ویزو کې د اسانتیا موارد د افغانستان د صادراتو د زیاتوالي لپاره وړاندیز کړي دي.

په خبرپاڼه کې راغلي، چې د هند سفیر د دغو وړاندیزونو هرکلی کړی او په یادو برخو کې یې د همکاریو د پراختیا لپاره د خپل هېواد پر ملاتړ ټینګار کړی دی. ظده زیاته کړې، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د ګډو نندارتونونو جوړول، تخصصي ناستې او د سوداګریزو پلاوو سفرونه د پلان په اجنډا کې شامل دي.

د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې ویلي، چې دغه لیدنه کولای شي د افغانستان او هند ترمنځ د اوږدمهاله همکاریو او اقتصادي، سوداګریزو او پانګیزو اړیکو د پیاوړتیا زمینه برابره کړي.

Hewad Daily

د ورځپاڼو رئیس: **انجنیرعُزیر بریالی**
آمر او مسئول مدیر: **محمد قاسم عزام**
مسئول سکرتر: **شېرمحمد نظري**
ډیزاین مسئول: **یما عرب**
ویبپاڼې مسئول: **ګل ولي افغانیار**
چاپ پته: **آزادي مطبعه، امارتي شرکت**
پته: **اتمه ناحیه د حضوري چمن ختیځ-کابل**

تویټر
بریښنایي بڼه
www.hewaddaily.com
info@hewaddaily.com
020-2526340
0766490049

اسعارو بیعه

یو ډالر	٦٥.٩٥ اف
یو یورو	٧٥.٣٠ اف
یو پونډ	٨٦.٤٠ اف
یو درهم	١٧.٩٦ اف
زر ریال	٠٣٤ اف
زر کلداري	٢٢٩ اف
زر کلداري	٧٤١ اف

د هوا حالات

	کابل	هرات	مزار شریف	کندهار	هلمند	فراه	غزنی	
↑ ٠٤:٥٤	٣٧°C	٣٩°C	٤٧°C	٤٣°C	٤٦°C	٤٧°C	٣٤°C	↓ ٠٧:٤

د افغانستان او هند ترمنځ د سوداګریزو اسانتیاوو پر پراختیا بحث وشو

د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونه وايي: د دې خونې رئیس او په کابل کې د هند سفیر د صادراتو د زیاتوالي، لوژستیکي اسانتیاوو د ښه‌والي، سوداګریزو خنډونو لرې کولو او سوداګرو ته د ویزو په اخیستو کې د اسانتیا په اړه خبرې کړې دي.

د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې د دې خونې عمومي رئیس سیدکریم هاشمي د شنبې په ورځ په کابل کې د هند له سفیر یتین پټیل سره لیدلي دي.

د خبرپاڼې له مخې، هاشمي په دې لیدنه کې د افغانستان او هند ترمنځ د سوداګریزو او پانګیزو اړیکو پر پراختیا، د سوداګریزو بهیرونو پر اسانتیا، د اداري خنډونو پر لرې کولو او د خصوصي سکټور د بنسټونو پر پیاوړتیا ټینګار کړی دی.

ده هند ته د خپل وروستي سفر لاسته‌راوړنو ته په اشاره، د کرنیزو محصولاتو ...

٣مخ

پنجشېر کې ۱۵ زره ځوانانو ته د کار زمینه برابره شوې

د پنجشېر ځايي مسؤلین وايي، په دغه ولایت کې د قیمتي ډبرو د کانونو استخراج له پراخېدو سره شاوخوا ۱۵ زره ځوانانو ته په مستقیم او غیرمستقیم ډول د کار زمینه برابره شوې ده.

د پنجشېر د والي ویاند سیف‌الدین لټون باختراطلاعاتي اژانس ته ویلي ، چې دا مهال شاوخوا زر تنه ځوانان د قیمتي ډبرو، په ځانګړي ډول د زمردو، د پېر او پلور په برخه کې په مستقیم ډول فعالیت کوي او د زمردو د مزایدو او د کابل او بهرنیو بازارونو له لارې مناسب عاید ترلاسه کوي.

د نوموړي په وینا، تر اوسه په پنجشېر کې د ۱۶ ډوله کانونو سروې شوې او د ببروج، زمردو او یو شمېر نورو قیمتي منرالونو استخراج په عملي ډول روان دی. لټون زیاته کړې، اوس مهال شاوخوا ۱۵ زره کسان، چې ډېری یې د پنجشېر اوسېدونکي دي، د کانونو د استخراج په برخه کې په مستقیم او غیرمستقیم ډول په کار بوخت دي، چې ۴۰ سلنه یې هره میاشت له ۶ زرو څخه تر ۱۰ زرو افغانیو پورې معاش ترلاسه کوي.

د دغو ځرګندونو پر مهال، چې د پنجشېر د کانونو د ساتنې کمېټې په غونډه کې وشوې، د پنجشېر والي الحاج حافظ محمد آغا حکیم د کانونو پر قانونمند او شفاف استخراج ټینګار وکړ چې دوی ...

٢مخ

له پاکستانه راستانه شوي افغان مهاجرین د پاکستاني پولیسو له ناسم چلند شکایت کوي

تورخم کې له پاکستانه راستانه شوي افغان مهاجرین د پاکستاني پولیسو له ناسم چلند شکایت کوي او وايي: ان له خپلو خپلوانو او دوستانو سره ورته د مخه ښې فرصت هم نه دی ورکړل شوی. دوی زیاتوي، چې په دې وروستیو کې د پاکستان حکومت پر افغان مجاجرینو ډېر بندیزونه لګولي او کډوال له خپلو کورونو هم نه شي وتلی. له پاکستانه تازه را ایستل شوي، شریف الله وايي: ((زموږ پر خلکو او د خلکو پر موږ پورونه پاتې، خپل کاروبار ته يې نه پرېښودو، ضرب الاجل يې راته وټاکه، چې په څو ورځو کې باید خپل وطن ته لاړ شئ، نو پرېکړه مو وکړه، چې راشو خپل وطن ته او دلته د اسلامي امارت له لوري هر ډول خدمتونه راته برابر شوي دي.)) بل را ایستل شوي، محمد شریف وايي: «د پاکستان حکومت پر موږ سخت محدودیتونه ...

٢مخ

د بلخ مسؤلین:

سږ کال په دې ولایت کې پر ۳۰۰ هکټاره ځمکه لمرګلی کرل شوی

د بلخ مسؤلین وايي چې په دې ولایت کې د کوکنارو ښه بدیل بزګرانو ته د لمر ګلي کرکېله ګرځېدلي ده چې یوازې سږ کال پر ۳۰۰ هکټاره ځمکه يې کښت شوی دی چې په شاه او خوا ۶۰۰ ټنه حاصلات به ترې ترلاسه شي. بل لور ته اقتصادي کارپوهان د هېواد پرمختګ د د زراعت پورې نغښتی دی او زیاتوي چې وده یې کولای شي افغانستان په صادراتي هېواد بدل کړي. دوی وايي: د لمر ګلي کرکېلې سره د هېواد دننه په زراعت کې ستر بدلون رامنځته کېږي، غوړيو تولیدات پراخېږي، کاري فرصتونه برابرېږي او د بزګرانو د عوایدو ډېروالي ترڅنګ د هېواد اقتصاد وده کوي.

په دې اړوند د بلخ والي ویاند حاجي زید د هېواد ورځپاڼې خبریال سره د مرکې له مخې ویلي دي چې په دې ولایت کې د لمر ګلي کرکېله زیاته شوې ده چې د کوکنارو ښه بدیل ګرځېدلي او سلګونه بزګرانو یې کښت ته مخه کړې ده. د زید پر وینا: روان کال په بلخ ولایت کې پر ۳۰۰ هکټاره ځمکه د لمر ګلي کرکېله شوې چې په اټکليز ډول به ترې نږدې ۶۰۰ متریک ټنه حاصل تر لاسه شي چې په کې به سلګونه کسانو ته په مستقیم او غیري مستقیم ډول د کار زمینه برابره شوې ده. د نوموړي په خبره: د دې ولایت دننه د لمر ګلي پراختیا د کرنیزو محصولاتو تنوع، د بزګرانو د عایدو لوړولو، د نباتي غوړيو، د کورني تولید زیاتوالي او د صنعتي نباتاتو د ودې لپاره مهم ...

٢مخ

نورستان کې د درېیو کورنیو ترمنځ دښمنۍ د روغې جوړې له لارې حل شوې

د نورستان په برګمټال او واما ولسوالیو کې د سیمه ییزو مسؤلینو، علماوو او قومي مشرانو په منځګړیتوب د درېیو کورنیو ترمنځ څو دښمنۍ حل شوې. د برګمټال ولسوالۍ د پخیګرام کلي هغه شخړه، چې څو میاشتې وړاندې د یوه کس د وژل کېدو له امله رامنځته شوې وه، د نورستان والي او نورو ځايي مسؤلینو او قومي مشرانو په هڅو حل او فصل شوه. دواړو لوریو د جرګې پرېکړه ومنله او د سولې د دوام ژمنه يې وکړه ...

٢مخ

بهرنۍ لنډ خبرونه

د اسرائیلي رژیم بریدونو غزه کې ۱۲ فلسطینیان شهیدان کړي

د غزې روغتیایي مسؤلین وايي، د اسرائیلي رژیم پوځ په دوو جلا بریدونو کې لږ تر لږه ۱۲ فلسطینیان شهیدان او ۳۲ نور ټپیان کړي دي. د راپورونو له مخې، په دغو بریدونو کې یو د غزې ترانګې د النصیرات په سیمه کې د جنازې مراسم په نښه کړي، چې له امله يې اته کسان شهیدان او شاوخوا ۲۰ نور ټپیان شوي دي. ویل کېږي، د برید پر مهال ګڼ شمېر خلک د جنازې په مراسمو کې راټول وو، چې د چاودنې له امله ملکي وګړو ته درنه مرګ‌ژوبله اوښتې ده.

د سیمې د روغتیایي سرچینو په وینا، په بل برید کې هم څلور فلسطینیان شهیدان او یو شمېر نور ټپیان شوي، چې ځینې یې د سختو ټپونو له امله تر درملنې لاندې دي. د ژغورنې ډلې لا هم د زیانمنو سیمو د پلټنې او احتمالي قربانیانو د موندلو هڅې کوي. حماس دا بریدونه «وحشیانه ډله‌ییزه وژنه» بللې او له منځګړو هېوادونو او ملګرو ملتونو يې غوښتي، چې د غزې ...

٣مخ

په پېښور کې د امریکا قونسلګري وتړل شوه

په پېښور کې د امریکا قونسلګرۍ اعلان کړی، چې د دې استازولۍ فعالیتونه پای ته رسېدلي او د خیبرپښتونخوا ایالت اړوند ټولې ډیپلوماتیکې چارې د امریکا سفارت ته په اسلام‌اباد کې سپارل شوې دي.

د امریکا قونسلګرۍ په خپله ایکس‌پاڼه لیکلي، چې له دې وروسته به د خیبرپښتونخوا اړوند ډیپلوماتیک تعاملات د اسلام‌اباد په سفارت کې د «خیبرپښتونخوا واحد» (KPU) له لارې پر مخ وړل کېږي.

په اعلامیه کې راغلي، چې د امریکا د پېښور قونسلګرۍ ایکس‌پاڼه نور فعاله نه ده. دغې استازولۍ له خلکو غوښتي، چې د نویو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د امریکا د سفارت په پاکستان کې د فېسبوک، انسټاګرام او ایکس رسمي پاڼې تعقیب کړي.

قونسلګرۍ زیاته کړې، چې د سوداګریزو او اقتصادي اړیکو د پراختیا، د امنیتي همکاریو د پیاوړتیا او د خیبرپښتونخوا او د پاکستان له نورو سیمو سره د امریکا د روانو ډیپلوماتیکو هڅو اړوند معلومات به د امریکا د سفارت په رسمي وېب‌پاڼه کې خپرېږي.

په چین کې د ځمکې ښویدنه؛ اته کسان مړه او ۳۴ نادرکه دي

د راپورونو له مخې، د چین په سوېل‌لوېدیځ چونګ‌چینګ ښار کې د ځمکې ښوېدنې له امله اته کسان مړه، ۳۴ نور نادرکه او لس کسان ټپیان شوي دي. رویټرز خبري اژانس راپور ورکړی، چې دغه پېښه د پینګ‌شوی ولسوالۍ په یوه استوګنیزه سیمه کې رامنځته شوې ده. سرچینې لیکلي، چې د ځمکې ښوېدنې له امله د غره په لمنه کې څو استوګنیزې ودانۍ نړېدلې او له شاوخوا سیمو څخه تر زرو ډېر کسان خوندي ځایونو ته لېږدول شوي دي.

سیمه‌ییزو چارواکو ویلي، چې تر ماسپښین پورې لس کسان ټپیان شوي وو، چې د دوو روغتیایي وضعیت نازک ښودل شوی دی.

د چین ولسمشر شي جین‌پینګ لارښوونه کړې، چې د نادرکه کسانو د لټون او ژغورنې عملیات دې دوام ومومي او د ځمکې ښوېدنې لامل دې وڅېړل شي.

پکتیکا کې د شاوخوا ۲۶۱ زره ډالرو په لګښت کرنیزې پروژې بشپړې شوې

د پکتیکا د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست مسئولین وايي، چې د دغه ولایت په مرکز ښرنه او د ګیان او متاخان ولسوالیو کې د افغانستان د راتلونکو نسلونو موسسې (FGA) په همکارۍ یو شمېر لویې او کوچنۍ کرنیزې پروژې بشپړې او ګټې اخیستنې ته سپارل شوې دي ...

٢مخ

بهر ته د څارویو د محصولاتو صادرات نږدې اووه برابره زیات شوي

د هرات سیمه‌ییز مسؤلین وايي: د روان کال په لومړیو درېیو میاشتو کې د یو میلیون او ۱۲۳ زره امریکایي ډالرو په ارزښت، له یو زر او ۲۸۰ ټنو ډېر د څارویو پوستکي او کولمې بهر ته صادرې شوې، چې د تېر کال پرتله نږدې اووه برابره زیاتوالی ښيي. د تېر کال په همدې موده کې بیا یوازې ۱۶۸ ټنه د څارویو پوستکي او کولمې بهرنیو بازارونو ته صادرې شوې وې. دغه حیواني محصولات ایران، امریکا، هند، ترکیې، اتریش او لبنان ته صادر شوي دي. د هرات د سوداګرۍ او پانګونې خونې اجرائیوي امر، محمد یوسف امین وايي: ((حیواني محصولات تر ډېره د هېواد له ټولو ولایتونو راټولېږي. دغه پوستکي او کولمې هرات ته لېږدول کېږي، دلته له یوې ساده پروسې وروسته بسته‌بندي کېږي او بهرنیو هېوادونو ته صادرېږي.))

صادرونکي وايي: په هېواد کې د اړینو اسانتیاوو د نشتوالي له امله اړ دي، چې دا محصولات په ټیټه بیه بهر ته صادر کړي.

د څارویو د محصولاتو صادرونکي، بهادرشاه احمدي وايي: ((افغانستان خپله کولای شي ...

٢مخ